# د هجري د هجرګواليارې او بيجاپورې اهونه

**(The Saigh Ashraf Khan Hijri in the Prisons of gawalyar and bejapur)**

علي احمد عاجز*

**Abstract:**

Ashraf Khan Hijri is the elder son of great Pashtun poet. Khushal Khan Khattak. Like his father he has also a great contribution in the field of Pashto Language and Literature. He was as good poet as his father was unfortunelly most part of line life spent in prison. This article highlight line miserable life in prison of Gawalyar and Bejapur.

**Key words:** Ashraf Khan Hijri, Prisons, gawalyar, bejapur, Pashto Language.

وړاندې له دې نه چې د هجري د هجرګواليارې او بيجاپورې اهونه قلمبند کړم ، زيات مناسب ګڼم چې اول د هجري د زنداني کېدلو وجوهات په لنډو ټکو بيان کړم ـ او ددې د بيانولو نه غرض دا لرم چې د خان جنت نښان اشرف خان هجري په زنداني کړاو او د دردېدلو وختونو رڼا پرېوځي ـ دې سره به مونږ ته د هجري د هجر دَ اهونو شدت ښکاره شي ـ لکه څنګه چې هجري پخپله وائي چې زما قېدول په ما ظلم شوى دى زه بې قصوره يم لکه دا شعر ـ

"د وصـــال لارې بنـــدې د ظلـــم اور کـــړې
خـــام امـــل د روهـــې ګـــورې چـــې رجـــا کـــا"(1)

خو تر دغې هم وړاندې ، غواړم چې د خټکو د کورنۍ سردارۍ ته په ډېرو لنډو کښې د تاريخ په رڼا وګورو حيات افغاني ليکلي دي چې ـ

"د خټکو د قبيلې اولنى مشر ملک اکوړه (زوى د درويش محمد ، چې په چينجو بلل کېده) وه او د خټکو تر ټولو وروستى مشر سعادت مند خان وه چې د احمد شاه ابدالي زوى تېمور شاه سدوزي ورته د خپلې حکمرانۍ په دوران کښې د سرفراز خان لقب ورکړى وه او دا سعادتمند خان د سعد الله خان زوى ، هغه د اصل خان خټک زوى ، هغه د اشرف خـــان هجـــري زوى او هجـــري د خوشـــحال خـــان خټـــک زوى وه ".(2)

**د هجري د شعر عظمت"**

د هجري د شعر عظمت ته لږ د پوهانو په نظر ګورو دا په هم مونږ ته زمونږ د موضوع په حواله مرستيال او ګټور پرېوځي ـ

* Assistant Professor, Department of Pashto, University of Peshawar

"پروفېسر محمد نواز طائر په خپل کتاب روهي ادب کښې د خان د کورنۍ تر عنوان لاندې لیکلي دي چې د خوشحال خان خټک د دورې د اٰغاز سره سم پښتو ژبې خپل حقیقي اٰب و تاب او ځلا موندل شروع کړل -------- د خان اولاد د پښتو ژبې او ادبیاتو خدمت د خپل نامتو بابا نه په میراث کښې موندی وه - د هغه په زامنو کښې دپښتو د اولې درجې شاعران او ادیبان پېدا شول په دوي کښې هر یو په خپل خپل مقام قابلِ ذکر دی - ښاغلی کامل مومند د خان په زامنو کښې د اشرف خان هجري ، سعادت خان ، بهرام خان ، نظام خان ، عابد خان او عبدالقادر خان د شاعرانه عظمت ذکر کړی دی". (3)

د اشرف خان هجري د زنداني کېدلو وجوهات او حالات په تاریخي رڼا کښې:

تاریخ حیات افغاني: محمد حیات خان په خپل کتاب حیات افغاني کښې په دې حقله څه داسې ګویا دی -

" تر شپږ کاله زندان وروسته کله چې د پېښور شاوخوا عزنیو سیمو کښې شور شو نو رامینځ ته شول نو په دغه وخت کښې اورنګ زېب د باچائي مصلحت له مخې خوشحال خوشې او خاص آس او خلعت ئې وروباخښه او په عزت سره ئې رخصت کړو - کله چې نوموړی خپل کور ته ورسېدو نو خپل زوی اشرف خان ئې مشر وټاکه - د اشرف خان بل ورور بهرام خان چې د خپل پلار سره ئې مخالفت وه د قبیلې په مشرتوب ئې له پلار اور ورور سره دښمني پیل کړه او د کاکا صاحب زوی ضیاءالدین د بهرام مرسته وکړه- له دې امله اشرف خان ضیاءالدین ونیوه - په دغه خبره اورنګ زېب ناراض او اشرف خان ئې بندي کړو". (4)

او دا خبره هجري اشارةً په دې (متنازعه) شعر کښې بیان کړې ده -

" زه په بند د اورنګ نه یم چې به خلاص شم
بندي کړی رحمکار زیړي کاکا یم "(5)

د هجري د بندي کېدو په حقله ښاغلي همېش خلیل "د هجري دیوان" په مقدمه کښې لیکلي دي چې "کابل صوبېدار هسې هم هجري سره سم نه څرېدو وجه ئې دا وه چې د هجري یو خېښ ازاد ګګیانې د کابل صوبېدار نه سرکشي کړې وه او بله وجه ئې دا هم وه چې اشرف خان صوبېدار د خواهش مطابق هغه سره کابل د تللو نه ډډه کوله - ازادګګیا نی - اشرف خان هجري سوات ته لېږلی وه او د هغه بال بچ ئې د ځان سره ډېره کړی وه - ازاد ګګیانې د سوات نه په دوابه تاخت وکړو او وروستو بیا د علي مرداد خان زوی ابراهیم خان هندوستان ته لاړ - د کابل صوبېدار ډېر کوشش وکړو چې ازاز ګګانی د ابراهیم خان نه بیل شي او ده ته رجوع وکړي ولې ازاد په هغه بې اعتباره وه - هم دغه وجه وه چې د بادشاه

د اجازت اخستلو نه پس امیر خان (د کابل صوبېدار) راجه رام سنګهـ ته د هجري د ګرفتارولو حکم ولېږلو.رام سنګهـ دغه ورځو کښې په جمرود کښې وه هغه د صوبېدار خبره ونه منله او جواب کښې ئې ورته وکښل چې دا د هغه کار نه دی ـ وروستو بیا امیر خان صوبېدار د اشرف خان هجري یو دوست سید بهولاد شهامت خان زوی ته د اشرف خان هجري د ګرفتارولو د پاره وئیل ـکال 1092هـ د جمادي الاول په اوائیل کښې اشرف خان هجري د راجه رام سنګهـ د هجري ډېر قدر او عزت وکړو او بیا ئې سره د تحفو تحائفو واپس کړو او د رخصتولو په وخت ئې ورته اشارةً دا هم ووئیل چې له پېښور ښاره مه تېرېږه ـ بلکې د ښار نه بهر په بهر کلي ته ځان ورسوه ـ د هجري زړه صفا وه او د حکمت خلاف پکښې څه نه وو ځکه هغه د راجه رام سنګهـ په اشاره پوهه نه شو او پېښور ته ننوځ د خپل دوست سید بهولا کره لاړ ـ د یو بل سره د روغ بړ نه پس هغه هجري ته وئیل چې ته به لږ په ارام شې او زه درته د ډوډۍ بندوبست وکړم ولې د سېد بهولاد تللو نه لږ ساعت پس د ډوډۍ د انتظام په ځائی د هغه د ګرفتارۍ انتظام وشه ـ ګرفتارۍ نه پس هغه هندوستان ته ولېږلی شو چې وړومبی په ګوالیار او بیا په بېجاپور کښې بندي کړی شو ،،،،،،، اشرف خان هجري د ګوالیار او پسته د بېجاپور په ژندون کښې د ځوارلسو کالونو د قېد و بند نه پس په کال 1106هـ نه پس وفات شو". (6)

همېش خلیل وړاندې لیکلي دي چې "

"د اشرف خان هجري په حقله د ځینو خلقو ګمان دی چې د بېجاپور (جنوبي هند) په زندان کښې هغه قېد نه وه بلکې هلته ازاد وه ځنو دا خبره سمه ځکه نه ده چې هم بېجاپور کښې د لیکلو شعرونو نه دا حقیقت واضحه دی چې موصوف هم تر اٰخره وخته په زندان کښې وه ".(7)

**د زنځیرونو شاعر**:

"ښاغلی زرین انځور په خپل کتاب د "زنځیرونو شاعر" کښې د اشرف خان زنداني کېدل تر عنوان لاندې لیکلي دي چې لنډیز ئې دا دی ـ د خټکو او د هند د مغلي دولت تر منځ اختلافو نه زیاتېږي د دوي د روغې جوړې ښلا بېلو خبرو هېڅ سره ونه نېوه د اشرف خان یو خپلوان د ازاد ګګیاڼي په نوم د امیر خان سخت مخالفت کولو ـ هغه د امیر خان له لاسه سوات ته پناه وړې وه او له هغه ځایه به ئې پر مغلو حملې کولې ـ دې کار د صوبېدار په زړه کښې د هجري په مقابل کښې زړه بداوی پېدا کړ ـ کله چې امیر خان وغوښتل چې کابل ته لاړ شي نو له اشرف خان څخه ئې هیله وکړه چې له خپلو سړیو سره یو ځائی ، ته هم راسره جلب کښې لاړ شه ـ هجري د صوبېدار دغه هیله ونه منله او د خپل ځان پر ځائی ئې

هم هغه بهرام له هغه سره جلب کښې ملګری کړ ،،،،،،، زرین انځور بیا وړاندې د تاریخ مرصع نه رانقل کړې دې چې "امیر خان چې کابل ته لاړ بیا پېښور ته رانغی ـ په جلال آباد پاتې شو ـ بادشاه ته ئې وکښل چې زه په دا لار د خېبر یا د کړپو یا د بنګښ چې همېشه د روم د پېښور محتاجي ما لري بويه او دوي چې صوبه دار په دا لاچې محال طلب کاندي او دا د ننګرهار ملک هم چې پښتنو ویران کړی دی لاودان شوی نه دی ـ که بادشاه حکم کا ، زه تر کابله او جلال اٰباد ګرځم دا ملک به هم ودان شوی نه دی ـ او پښتانه به هم ماته محتاج شي ـ بادشاه اختیار ورکړ نور ئې بادشاه د خان جنت مکان شکوه شکایت ډېر وکوېښ بادشاه اختیار ورکړ چې ته صوبېدار ئې ، هر چې پوهېږې هغه کړه ـ د خان جنت نښان حکم ئې د قېد ، راجه رام سنګهه ته چې په جمرود کښې وه واستوه ـ هغه زمیندار وه قبول ئې نه کړ چې دا کار دې ما نه دی بیا ئې سید بهولا چې د شهامت خان زوی وه ، په پېښور کښې ، هغه ته ئې وکښل چې په هر فن و فرېب خان جنت نښان قېد کا راجه رام سنګهه خان جنت مکان په ډېر خواهش جمرود ته وباله ـ دده په زړه کښې هېڅ نه وو د بادشاه په دولت خواهش مغرور ورغی په سن زر دوه نوي ، اخر ثور یا اول جوزا ، راجه رام سنګهه یو سروپائې ، یو آس یوه د غاړې د هکدهکی ورکړ ، نور ئې رخصت کړ ـ ورته ئې اشارت وکړ چې په پېښور مه ځه ، بېرون درومه ، اٰخر از راه دولت خواهي ورغی د سید پهولا کره ـ پخپله ورغی چې اٰشنا دی ، دی وګورم نور به درومم ، هغه له خدای هم دا غوښتل ورته ئې وئیل چې ته کښېنه ، زه کورته لاړ شم چې طعام راستوم ، طعام وخوره ، هاله درومه ، دی ئې کښېناوه ـ نور ئې خلق ترې چاپېره کړل ، پروانه ئې د امیر خان ورښکاره کړه ، په قېد ئې کړ". (8)

**د هجري د هجر اٰهونه**:

په ګوالیار او بیجاپور کښې چې د اشرف خان هجري له خُلې کوم سوي اٰهونه وتلي دي او هغه ورته د یو شعر یوه معنٰی خېزه جامه وراغوستولې ده هغه څو اٰهونه دلته ځرګندوم ـ

"پـــــه اٰواز ئـــــې غـــــوږ لـــــرئ د روه بلبلـــــو
پـــــه دکـــــن د حـــــال قصـــــه هجـــــري توتـــــا کـــــا" (9)

هجري وائي چې د هجران له ډېره درده چې زما د زړه نه کوم اٰهونه وځي نو دغه اٰهونه دومره ډېر زیات وي چې ټوله فضا ئې الوده کړې ده او د هغې په وجه د نمر رڼا ورکه شي نمر تت شي او زما د شپې په اٰهونو د سپوږمۍ رڼا ختمه شي ځکه چې زما اٰهونه د ډېر والي او شدت له کبله د ګورې وربځې شکل اختیار کړي ـ شعر ئې څه داسې دی ـ

"هغـــــه دم چــــې د هجـــــرن لــــــه دوکـــــه اٰه کـــــړم
پـــــه ورځ نــــوُر د مهــــر ورک ، پـــــه شــــپه د مــــاه کــــړم "(10)

هجري د هجر د اٰهونو په حقله وړاندې څه داسې ګویا دی او وائي چې کله زه د اٰسمان په لور اٰه وکړم نو په هغه ټوله فضا ګېره شي او د هغې د لوګي نه د زمانې خلق تنګ ، تباه او هلاک شي خو دا خلق چې زما د اٰه د لوګي له کبله تباه کېږي دا حال زه چاته نه وایم ۔

" زه چــــې اٰه مـــــخ پـــــه فلـــــک کـــــوم پـــــوهېږي ؟
وایـــــم نـــــه چـــــې ئـــــې پـــــه دود دور تبـــــاه کـــــړم" (11)

هجري د شعر استاذ وه او ولې به نه وه چې پلار ئې استاذ وه ۔ هجري تشبيهات او استعارات داسې ښائسته استعمال کړي دي چې خپلو د هجر اٰهونو له ئې پرې ښکلی رنګ ورکړی دی ۔

چې په کوم لور لښکرې لاړې شي نو ګیاه وابښه هر څه پائمال کړي د پښو لاندې ئې چخښې کړي خو چې کله پرې بیا باران وشي نو دغه وابښه دوباره راشنه شي ، تازه شي ، سرونه جګ کړي او په مزه مزه بیا حال ته راشي کو هجري له خلې اٰه وباسي او وائي چې زه د هجر لښکرو داسې مات کړی یم چې د صبر په باران مې هم د تازه کېدول امکان نشته ۔

" نــــور بــــه مــــا بــــران د صــــبر تــــازه نــــه کــــا
چــــې د هجـــــر لښــــکر مــــات لکــــه وابښــــه کــــړم "(12)

هجري وائي چې د هجر غم څه وړه خبره نه ده دا یوه ډېره لويه الميه ده د هجر غم سره زما حلق دومره زيات تريخ شوی دی چې که د ټولې دنيا ټول خواږه وخورم نو بيا به مې هم خلق خوږ نه شي ۔

" هســــې نــــه د هجـــــر غــــم چــــې حلــــق پــــرې خــــوږ شــــي
کــــه پــــه خلــــه د زمــــانې همــــه خــــواږه کــــړم" (13)

هجري د هجر په اهونو کښې د تلميح څومره ښه استعمال کړی دی ۔ او د دوو ملائکو هاروت او ماروت تاريخي واقعې ته ئې اشاره کړې ده وائي چې د يار د هجر په اور زما دا زړه داسې سوزېږي داسې ورتېږي لکه څنګه چې د هغه خطا کارو فرښتو روحونه دوزخ په اور ورتېږي شعر ئې دا دی ۔

" زړه مــــې هســــې د يــــار هجـــــر پــــه اور ســــېزي
څــــو ورتېــــږي پــــه دوزخ د بــــد ملــــک روح" (14)

هجري په دکني زندان کښې ډېر زيات ژړلي دي او ډېر زيات اٰهېدلی دی ۔ هجري وائي چې په ګډانو د قصاب زړه نه سوزي او حلالوي ئې ، دغسې زما په ژړا هم وخت نه رحمېږي او د بادشاه اورنګ زېب په قېد کښې یم ۔ زما مثال لکه د تړلي ګډو دی او اورنګ لکه د قصاب دی شعر ئې دا دی ۔

"هجــــري ســــــتا پـــــه ژړا دور نــــــه رحمېــــــږي
دلســــــوزي پــــه مژونـــــو کلــــه کـــــا قصــــاب" (15)

د هجري د هجر اٰهونه چې د شعر په جامه له زندانه راخېژي نو ښاغلی پروفېسر ډاکټر زېبر حسرت هم وائي چې هجري شاعري د زندان په دوران کښې کړې ده ځکه چې دی له زندانه بهر زيات تر په حکومتي او د مشرۍ سردارۍ په معاملو بوخت وه نو شعرونو ته ورته فرصت نه وه او ددې خبرې ثبوت (زباد) د هجري دا شعر دی۔

په کوم چې هغه پخپله په دې خبره دا ده دی چې شعر وئيل زما څه خواهش ، غوښتنه نه وه خو چې قېد کړی شوم او په دې زندان کښې راباندې د غمونو باران جوړ شه نو شعرونه ليکلو باندې دا غم غلطوم او د زړه سود پرې کوم ځان له غمژن پام بدلوم۔ شعر ئې دا دی۔

"هجــري کلـــه شــعر ګــوی يـــا ئـــې طلـــب وه
لــــه غمونـــــو د زړه ســــود پــــه دا کـــــلام کــــا" (16)

د شپېلۍ په اٰواز کښې ډېر سوز وي اٰواز ئې ډېر غمژن وي او بيا د لږ غمژن انسان پام زان ته ډېر راګرځوي پوهان وائي چې ددغه غمژن اٰواز راز دا دی چې شپېلۍ د خپل بانسي ځنګل نه رابېله کړی شوې وي۔ او بيا ټول عمر شپېلۍ (نَے) دَ بېلتانه سندرې وائي غږ ئې له سوزه ډک وي د هجران له غمه ژاړي۔ د جدايۍ زغم ورته ګران وي ددې دومره غمژن اٰواز د نَے نواز کمال نه وي نو هم دې راز ته د هجري پام دی او پخپله پرې د هجر اور بل دی نو وائي چې دا ټول اور ګېر چاپېره د بېلتانه دی۔ د جدايۍ لمبې بلې دي او دا هر څه به خلقو ته هله وښکاري کله چې دوي د شپېلۍ د اٰواز په راز زان پوهه کړي او پوره فکر ورته وکړي پام ورته وځيروي۔

"همــــــــه اور د بېلتانــــــــه دی چــــــــي بلېــــــــږي
کــــه څــــوک ځيــــر فهــــم د نــــائی د ژغ پــــه راز کــــا" (17)

هجري خپل يو بېجاپوري اه کښې وائي چې ما خو بېجار په وېښه څه چې په خوب کښې هم نه وه ليدلی څه چې د تقدير فېصله وي هغه انسان سره کېږي۔

"بېجــــاپور هجــــري پــــه خــــوب ليــــدلی نــــه وه
اٰخــــر پــــېښ شــــي هغــــه کــــار چــــې ئــــې قضــــا کــــا" (18)

هجري د هجر اٰهونه وباسي وطن ورته ډېر راياد ېږي او په يو بېجاپوري اٰه کښې وائي چې که تمام بېجاپور راته څوک د سرو زرو ډک کړي او اختيار ئې زما شي نو هم به مې د وطن هوا هېره نه شي۔ او دغسې خبره ستر مشر احمد شاه ابدالي ه په دِلي کښې کړې وه ښاغلي ابدالي بابا وئيلې وو چې -
او دغسې هجري وائي چې :

"د وطن عیش و هوا به مې هېر نه شي
بېجاپور که راته ډک همه په زر کا" (19)

هجري یو ډېر باریک بین سړی وه نو ځکه خو به تر د پلار خوشحال خټک هم د ډېرو کارونو کولو طمع کېدله او کله کله به ترې خفه کېده هم ـ د هجري هر قسم مشاهده ډېره وه او یو سړی چې څومره ځیرک وي نو حساس هم وي ـ هجري وائي چې په دنیا کښې د وصال د عمر ډېر کم دی ما چې څومره وخت هم د وصال تېر کړی دی هغه لکه د باد تېر شه ـ بلکې د بوړبوړکۍ د عمر نه هم لږ دی ـ د بوړبوړکۍ عمر کم وي او بېخي کم ځکه چې په لږ شان هوا یا په لږ ګوتو وړولو ماتېږي ختمېږي ـ شعر دا دی ـ

"ما هجري چې د باورد په چشمو ولید
د وصال عمر ډېر کم دی تر حباب" (20)

کله چې دوه مخالف لښکرې یو بل ته مخامخ شي جنګ شروع کړي او دغه دواړو نه یو لښکر ماتي خوري ته نزدې شي نو د راتلونکي امداد انتظار شي ـ لاړ ته ئې سترګې وي چې له کومې به کُمک راشي چې زمونږ مرسته وشي زمونږ امداد د پاره په کوم تازه دم لښکر راشي چې مونږ د ماتي سره مخ نه شو ـ هجري د غه حال ته په خپل اٰ کښې اشاره کړې ده او ډېره ښکلې شعري جامه ئې ورته اغوستولې ده وائي چې ـ

"د هجران لښکرو زور رابانديې وکړ
منتظر ستا د رخسارو په کومک یم" (21)

هجري وائي چې یا خو ټول دکن وطن دی د غم وطن دی هلته ښادي خوشحالي پکښې نشته او یا زه غمونو راګېر کړی یم او امېښتلی شم ـ

"یا دکن د غم وطن، ښادي ئې نشته
یا په ما غمونو شپه کړه مبتلا یم "(23)

د هجري د ژوند اخرۍ څوارلس کلنۍ برخه ټوله څه په اٰهونو او څه په امېد کښې تېره شوه ـ په دې شعري اٰ کښې ئې سوز او درد هغه څوک محسوسولی شي چې په چا په خپله تېر شوي وي یا پرې تېرېږي ـ بلبلان اکثر ازاد ګرځي سېلونه کوي او دومره ډېره پرواه ئې نه وي ـ

څوک ئې بندي کوي نه او د دوي په نسبت توتیان اکثر بندي کولی او پنجرو کښې ساتلی شي ـ اشرف خان هجري چې په بېجاپور (دکن) کښې بندي دی ـ زنداني دی نو زان ته بندي توتي وائي او د خپل وطن یعني روهستان خلقو ته د اٰزادو بلبلانو نسبت کوي او د یو سوي اٰ په صورت کښې د وطنوالو نه دا غوښتنه کوي چې ای د روه بلبلو تاسو د هجري نومې توتي اٰواز غوږ ږدئ هغه تاسو ته د

اٰه په شکل له تور دکنه د خپل حال قصه کوي ـ تاسوته د زړه حال وائي ځکه چې هجري بندي خانه کښې بې وسه پروت دی ـ شعر دا دی ـ

"پـــــه اٰواز ئـــــې غـــــوږ لـــــرئ د روه بلبلـــــو
پـــــه دکـــــن د حـــــال قصـــــه هجـــــري توتـــــا کـــــا" (23)

شندې ټکی پښتو کښې عام استعمالېدونکی ټکی دی چې د "شند" سر ئې علاقه ده او "شند" د شاهین مخفف دی چې "شهند" هم ورته وائي یو زبردست ښکاري ځناور دی او په نورو مارغانو چې کومې زورورې حملې کوي هغه د "شندې" په نوم یادېږي (24)

نو شندې پښتو کښې زیات تر د حملو بلکې د ظالمانو حملو د پاره کارېدونکی ټکی دی نو هجري وائي چې دا په ما چې غم دا شندې کوي دا به ئې نه کولې که چرې دکن ته زما د یار له وطنه د یار د سپیو اٰوازونه راتللې ـ ځکه مې د سپیو اٰواز چرته راخېژي هلته اکثر نور ضرري ځیزونه خپل عمل دخل نه شي کولی هجري داسې اٰهېږي ـ

"پـــــه هجـــــري بـــــه غـــــم دا هســـــې شـــــندې نـــــه کـــــړې
پـــــه دکـــــن کـــــه ژغ راتلـــــی د یـــــار د ســـــپیو" (25)

هجري وائي چې که زما په زړه وی نو هېڅکله به ما هجر نه دی منلی د خپل دلبر تر څنګه به مې وخت تېرولی ـ او یا خو چې مې په ټول ژوند کښې جدائي نه لېدلې او یا خو چې ړوند پېدا وې ـ دا شعرونه ـ

"فلـــــک کلـــــه پـــــه مـــــراد د چـــــا ګـــــردش کـــــا
ګڼـــــه تـــــل زه د مئـــــین ، مئـــــین زمـــــا دی
کـــــش کـــــې هـــــومره مـــــروت ســـــپهر وکـــــړې
چـــــې دا څـــــو ګاهـــــه حیـــــات پـــــه مـــــدعا وی
جـــــدائي پـــــه حیـــــات مـــــه لیـــــدې پـــــه ســـــترګو
لا پیـــــدا پـــــه دا خرابـــــه نابینـــــا وی"(26)

هجري په بېجاپور کښې اٰهېرې خو کله کله ئې د دلبرې وصال طمع هم پېدا شي امېد ئې ژوندی شي چې کېدی اورنګ شاه راته رهائي راکړې او زه وطن کښې یار سره واصل شم بال بچ ووینم داسې وائي ـ

"کـــــه فرقـــــت د زهـــــرو جـــــام در کـــــا پـــــه لبـــــو
د وصـــــال پـــــه طمـــــع وخانـــــدې رجـــــا کـــــړې" (27)

هجري وائي چې زه په خپله ژړا ډېره قابو ساتم ګنې زما زړه ته دومره زيات غم رسېدلی دی چې که زما ژړا د زړه د سوز په اندازه وی نو زما د يوې سترګې نه به لکه د ګنګا سيند او د بلې نه به لکه چناب سيند اوښکې بهېدلې۔

"کــــه ژړا مــــې پــــه انـــــداز د زړه پــــه ســــوز وی
يـــوه ســــترګه ســــيند د ګنـــګ بلــــه چنــــاب وی" (28)

هجري د هجر اهونه وباسي او اوښکې د څڅولو په ځائی بهيوي او دومره ډېرې ئې بهيوي چې کله سترګو کښې اوبه ختمې شي وينې بهېدل ترې شروع شي او دومره حده پورې چې په وينو لړلې زمکه لاله زار ښکاري۔

"د ناســـتي زمکــــه مـــې هســـې اوښـــکو ســـره کــــړه
تــــه بـــــه وائـــــې بــــاغ زوولـــــی لالــــه زار دی" (29)

هجري د اه له شدته هجر ته مار وائي د مار نسبت ورته کوي خپل محبوب نه په دغه غرض د وصال ترياق غواړي۔

"د وصـــــــــال تريـــــــــاق راوبخښـــــــــه مئينـــــــــه
هـــــر نفـــس مــــې زړه چيچـــــي ، هجـــــر دې مــــار دی" (30)

هجري وائي چې زما داسې حال دی ماته داسې محسوسېږي چې ما هډو په جهان کښې خوشحالي ليدلې نه ده او زما مثال د سمندرد چېنجي دی چې عمر له د سُور اور تر مينځه پروت وي او ژوند ئې کېږي۔ او د کنې زندان ځان د پاره اور ګڼي۔ وائي چې۔

"هــــر ګزيــــار د ښــــادۍ نــــه وم پــــه جهــــان کښـــې
زه ثـــــاني د ســـــمندر دکــــــن مــــې نـــــار دی "(30)

هجري يو شعر کښې څه داسې اهېږي او وائي چې افسوس دی چې له اولې ورځې نه د هجر سوز اور وی نو نن به ماته دومره تکليف نه وی۔

"دريغــــه اور وی لــــــه ازلــــــه ســــــوز د هجــــــر
غــــم بـــه ولـــې وی پـــه مـــا کـــه تـــن مـــې ســـکور وی" (32)

هجري وائي چې د يار غم زما په زړه هر وخت چورلکونه خوري د جهان ټولې خوشحالۍ له ما هېرې دي ټول بېجاپور که ګل ګل شي خو ماته اور دی۔

"چـــې هـــــر دم ئــــې غــــم د يــــار پـــه زړه څرخېـــږي
بېجـــاپور کـــه همـــه ګُــل ، هجـــري تـــه کـــاغ دی" (33)

خان جنت نښان اشرف خان هجري زيات بېجاپور کښې اَهېدلی دی ـ يو وار طبيب ته مخاطب دی چې ته زما علاج نه شې کولی ته زما درمان نه شې جوړېدلی او دا ځکه چې د يار د جدائ اَس زما په زړه پښه ايښې ده او دَ اس سُم دومره سخت او تېره وي چې لوی او خراب زخم جوړوي او بيا چې زخم د زړه وي نو طبيب به ئې څنگه علاج کوي مرهم پرې هم نه کېښودلی هجري وائي.

"د روهـــــي دارو پــــــه تانـــــه شـــــي طبيبـــــه !
د فرقـــت اَس ئـــې پـــه زړه ايښـــی قـــدم دی" (34)

هجري وائي چې ماته زما د يار هغه زنه ډېره يادېږي د کومې زنې په کوتي کښې زما زړه ورپرېوتی او بندي دی او هسې هم "د زنې کوتی" يا چاهِ ذقن يعني د زنې کوهی ډېرو شاعرانو ياد کړی او ئې ستائيلی دی هجري وائي چې :

"چـــې زمـــا زړه ئـــې بنـــدي شـــه پـــه کـــوهي کښـــې
همېشـــه راتـــه پـــه يـــاد هغـــه ذقـــن دف "(35)

په بېجاپور کښې د هجري کار بس د اَهونو سره دی په يو اَه کښې وائي چې :

خلق وائي چې دوزخ په هغه جان (جهان) کښې وي خو د هجر له سختيو څخه ماته معلومه شوه چې په دنيا کښې هم سړی په دوزخ کښې وي شعر ئې دا دی ـ"

"خاصـــيت ئـــې مالـــه هجـــره منکشـــف کـــړ
خلـــق وائـــي پـــه هغـــه جهـــان ســـقر دی" (36)

اشرف خان هجري د بېجاپور بندي خانه کښې له ډېره سوخته مغل شهنشاه اورنگزېب عالمگير ته د زړه نه ښېرې کوي له ډېره تکليفه اَه کوي ـ

"لکـــه زه دې پـــه اَتـــش د جـــور وريـــت کـــړم
ســـزا بيـــا مـــومې جـــابره شـــهرياره "(37)

هجري وائي کله چې زه په فکر کښې تېر وخت ته لاړ شم او د يار سره د وصال او مصاحبو سره د ناستې پاڅتې هغه دوران ياد کړم او ژړا راشي نو دومره په ځار ځار وژاړم چې له دغې سببه سخت سخت کاڼي هم پاسته شي ـ

"کـــاڼي هـــم پـــه نوحـــه نـــرم د هجـــري شـــي
چـــې پـــه زړه د گُذشـــته دور صـــحبت کـــا " (38)

هجري د هجران غشي په زړه خوړلي دي نو اوس له خپله محبوبه د وصال مرهم غواړي څه داسې اَه ئې له خولې خېژي :

"د وصـــــال مـــــرهم ئـــــې کېـــــږده پـــــه زخمونـــــو
هجـــــري ډېـــــر غشـــــي خـــــوړلي د هجـــــران دي" (39)

هجري د هجر په وجه په خپل عمر ډېره ژړا کوي او وائي چې زما د زېړه ګونه د هجر په وجه ده۔

"شـــيرين عمـــر مـــې قضـــا کـــړو پـــه هجـــران کښـــې
رنـــګ مـــې ځکـــه پـــه زردۍ شـــه تـــر ګـــل نمـــر پـــېش" (40)

او هجري خپل دې اٰه ته څه ښکلې شعري جامه اغوستولې ده له ډېره درده ګويا دی چې ما ته که چا هم د هجر کور را په نخښه کړو نو زه به ئې د اوښکو په سېلاب لاهو کړم۔

"ځـــوک د هجـــر کـــور راوښـــايئي يـــارانو !
چـــې ئـــې لاهـــو د ســـترګو پـــه اوبـــه کـــړم" (41)

هجري اٰهېږي بېچاپور کښې زنداني دی او دا وائي چې دا زه چې اسويلي او فريادونه کوم دومره ډېر ئې کوم نو دا څه عجيبه خبره نه ده۔ ما د پاره دا ناشنا خبره نه ده که زه په دې خپلو اٰهونو د هغه اٰهونو نه د اٰسمان لاره هېره کړم کوم چې ددې نه مخکښې د اٰسمان په لورې تللي دي۔ زما چې کوم اٰهونه د اٰسمان په طرف روان وي او ورپسې نور ورشي نو ددې وروستو اٰهونو په دُور يعني لوګي د هغه تللو اٰهونو نه د اٰسمان لاره ورکه شي او دا څه نوې خبره نه ده داسې روزانه بلکې هر وخت کېږي ځکه چې زه د خپل وطن نه ، يار نه او بال بچ نه په زرګونو ميله لرې يوازې په دکن کښې قېد يم په زنځيرونو کښې مې ژوند دی۔ شعر دا دی۔

"د افغـــــان د اٰه چـــــې زه کـــــړم عجـــــب نـــــه دی
کـــــه تـــــر تللـــــو پوشـــــيده د فلـــــک راه کـــــړم" (42)

اول اول خو تر ډېرې مودې ، هجري د رهايۍ خوبونه ويني خو څو پورې ئې د ازادۍ اميد هم له اورنګزېبه پېدا شي چې کله ئې د زنداني کېدلو لس کلونه پوره شي نو بادشاه ئې حضور ته وغواړي خو بيا ئې بندي کړي او باقي عمر هم قېد پاتې شي او چې کله ئې د رهايۍ اميد ختم شي نو بيا څه دا رنګ واٰهېږي چې :

"د ځيګـــــر وينـــــې مـــــې وخـــــوړې غمونـــــو
مرګـــــه جګـــــي جګـــــي راشـــــه اوس رضـــــا يـــــم "(43)

او هم دغسې وشي مرګ ورته زندان کښې راشي او ځوارلس کلني اٰهونه ئې تر سره شي۔

## حوالې

(1)ديوان اشرف خان هجري ـ همېش خليل پېش لفظ پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک ، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي 2001ء ، مخ 34

(2)محمد حيات خان ، حيات افغاني ـ د پښتو اصل نسل او شجرې خيرندوي ټولنې تفنيکي څانګه پېښور ـ دوئم چاپ کال 86 13سال/ 2007 ز خلاصه مخونه 338،339

(3)طائر محمد نواز پروفېسر ـ روهي ادب ـ د پښتو ادبياتو تاريخ ـ پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي 1976ء ـ دوئم چاپ ـ مخ 301

(4)محمد حيات خان ـ حيات افغاني ، د پښتو اصل نسل او شجرې پشپړ وړومبی ، دوئم او درئم ټول ، د دانش خپروندوئې ټولنې تفنيکي څانګه پېښور ـ دوئم چاپ کال 1386/2007ز مخونه 338/337

(5)ديوان اشرف خان هجري ، همېش خليل ، پېش لفظ پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک ـ پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي ـ 2001ء مخونه 16 ، 17

(6)هم دغه حواله نمبر 5 مخونه ، 134

(7)هم دغه حواله نمبر 5 مخ 18

(8)انځور زرين ـ د زنځيرونو شاعر ـ اشرف خان هجري ـ د افغانستان د علومو اکاډيمي ـ د ژبو او ادبياتو مرکز ـ پښتو ټولنه ـ 1264 ه مخونه 36 ـ 37

(9)ديوان اشرف خان هجري ، همېش خليل پښتو اکېډيمي پېښوور يونيورسټي ـ 2001ء مخ 39

(10) همدغه اثر ، مخ 130

(11) همدغه اثر ، مخ 130

(12) همدغه اثر ، مخ 129

(13) همدغه اثر ، مخ 129

(14) همدغه اثر ، مخ 75

(15) همدغه اثر ، مخ 66

(16) همدغه اثر ، مخ 55

(17) همدغه اثر ، مخ 49

(18) همدغه اثر، مخ 36

(19) همدغه اثر، مخ 48

(20) همدغه اثر، مخ 63

(21) همدغه اثر، مخ 132

(22) همدغه اثر، مخ 124

(23) همدغه اثر، مخ 39

(24) پښتو ژبه (لغت) مولفین ډاکټر خیال بخاري ، پروفیسر مهجور خوېشکي مرستیال احمد علي عاجز ، نګران ډاکټر راج ولي شاه خټک - پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي - یوولسم جلد (ش ښ ص ض ط ظ) 1995ء مخونه 226 ، 227

(25) دیوان اشرف خان هجري ، همېش خلیل ، مخ 149

(26) همدغه اثر، مخ 321

(27) همدغه اثر، مخ 332

(28) همدغه اثر، مخ 236 (PTO)

(29) همدغه اثر، مخ 263

(30) همدغه اثر، مخ 244

(31) همدغه اثر، مخ 245

(32) همدغه اثر، مخ 248

(33) همدغه اثر، مخ 252

(34) همدغه اثر، مخ 258

(35) همدغه اثر، مخ 263

(36) همدغه اثر، مخ 255

(37) انحور زرین د زنحیرونو شاعر (اشرف خان هجري) د افغانستان د علومو اکاډیمي - د ژبو او ادبیاتو مرکز - پښتو ټولنه - 1364 - مخ 80 -

(38) دیوان اشرف خان هجري - همېش خلیل - پېش لفظ پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک - پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي - 2001ء مخ 291

(39) همدغه اثر، مخ 415

(40) همدغه اثر، مخ 79

(41) همدغه اثر، مخ 129

(42) همدغه اثر، مخ 130

(43) همدغه اثر، مخ 134